# په پښتني سیمه کښې د انګۍ تنقیدي او تحقیقي جائزه

# A critical study of Angay in Pashton Belt.

Rehmat Bibi (Arzoo Ziaratwala) ⋆
Dr. Muhammad Usman Tobawal⋆⋆

Abstract

Folk lore, an English phenomenon, is also seen among literature around the world. It can be seen in different genres according to the nature and socio-cultural system of the people of a region. Angay, a common genre in Pashtoo Literature, is quite common among Pashton community. It is a type of short poetic piece which is commonly associated with marriage ceremony through which the women express their mournful experience and platonic love at the parentage. However, this lovely way of expression seems to disappear as modern people underpass a socio-cultural change. The present study aims to highlight the historical background of Angay, and its impacts on social lives of the people. The study also explores the facts as to why this genre is limited to a few districts of Pashton belt in southern Balochistan. The data was collected in Borey (Lorali), Killa Saifullah, Harnai and Ziarat districts through interviews. The researcher employed qualitative method research to analyze the data. The researcher came with the findings that this genre is fully non-individual and limited to the aforesaid districts. The findings also reveal that modernization, globalization and social changes are the main elements that cause a decline to angay among Pashton tribes.

⋆ M.Phil Scholar in Pashto.

⋆⋆ Director Pakistan Study Centre UOB, Quetta

فولکلور د انګلیسي ژبې تکے دے، معنیٰ ئې ده د خلکو پوهه، کله چې انسان دې دنیا ته راغلے او د معاشرتي ژوند ابتدا ئې کړې. فولکلوري ادب هم له هغه وخته را پېل شوے دے. پښتو اولسي او شفاهي ادبیات منثور او منظوم بېلا بېل صنفونه لري. د اولس په ګډه دې مالا کښې د بېلا بېلو قسمونو ملغلرې پیودلي دي. که هغه دودونه دستورونه دي، که ټپه، غاړې، متلونه، انګۍ او داسې نور. پر دا باندې هېڅوک دا دعویٰ نهٔ شي کولے، چې دا ما تخلیق کړي دي. په دې فولکلوري اصنافو کښې ښځو او زلمیو په ګډه برخه اخیستې ده. خو ځینې اصناف داسې هم وي چې هغه صرف وه یوه ته منسوب وي. په هغو کښې یو صنف "انګۍ" یا چغیان هم دي. انګۍ ته په اردو کښې تاسفي ټپې (رخصتی کے گیت) وائي. په پښتو کښې په بېلا بېلو علاقو کښې خپلې خپلې نمونې وي. خو اکثره ورته انګۍ وائي، انګۍ ولې وئیل کېږي او په انګۍ کښې د ښځو مظلومیت له کومه وخته را روان او دا له کومه وخته رواج دے. دا سوال پر خپل ځاے خو دلته سوال دا چې انګۍ یوائې ښځې ولې وائي؟ نارینه ئې ولې نهٔ وائي؟ دا ځواب مونږ لرو هغه دا چې ښځه زمونږ په معاشره کښې ډېره مظلومه ده. که څهٔ هم اسلام و هغې ته د خپلو حقوقو تعین کړے دے. خو نن هم د اریایي دور ځینې دودونه په ټولنه کښې دوام لري. اسلام دا په ځرګنده توګه وائي چې د خلکو دپاره اسانیانې پیدا کوئ. ستونځې نهٔ. پښتانهٔ د هلک او انجلۍ تر منځ ډېر لوے توپیر ساتي. اسلام چې و ښځه ته کوم حق ورکړے دے هغه زیاتره ټولنې له هغې څخه اخستے دے. اسلام و ښځینه ته د وادهٔ حق د خپلې خوښې ورکړے دے. اسلام و نارینه او ښځینه دواړو ته د برابرۍ پر بنسټ حق ورکړے دے.

"د اسلام مبارک دین و ښځو ته هغه کرامات ورکړل چې نه خو پخوانیو قومونو ادیانو او قوانینو کښې چا ورکړے ؤ او نهٔ هم تر اوسه پورې چیرې چا ورکړے دے. د ښځې مدني او انساني حقوق ئې تامین کړل."(۱)

تر اسلام له مخه داسې قومونه هم وو چې خپلې ښځې بې ژوندۍ ښخولې هغوي ته ئې هېڅ حق نۀ ورکول. یواځې د ځان چوپړ ئې په وهئ او په هغوي به ئې درانۀ کارونه کول. په پښتني ټولنه کښې ډېر رواجونه اوس هم تر اسلام راتلو له مخه وخت پالنه کوي او کله چې له ښځو سره ناوړه چلن اوشي نو دوي مزاحمت ارومرو کوي او د دې مزاحمت په نتیجه کښې شاعري انګۍ منځ ته راغله.

"انګۍ" یوه چیغه ده، فریاد دے، ویر دے، ژړا ده او د دردمنو زړو ږغ دے.

"انګۍ یا چغیان د اولسي شاعرۍ هغه مخصوص صنف دے چې اړه ئې زیاتره له ناویانو سره ده، چې د پلار په کور کښې په ښائسته جوړ کړي تخت باندې ناسته وي او څو ساعته پس د خواږۀ بابک له کوره رخصتېدونکې وي. پر دغه مهال کاکړه ناوکۍ "انګۍ" یا چغیان نومې شاعري سم د لاسه یعني في البدیه په ژړا ژړا کښې کوي."(۲)

ډېرې ناویانې داسې هم وي چې انګۍ تر ودوزن له مخه تیاره وي. یعني کله چې کوزده اوشي. له کوزدې د ورځې دا د بابک پر کور مېلمنه حسابېږي. د کور هر غړي حتی الامکان کوشش کوي چې له دې سره بد وه نۀ کړي. خو د دې زړۀ له هغه وخته دا تسلیم کړي چې ګڼي دا به د بابا له کوره د مدام لپاره ځي. له کوزدې پس دا ډېره غمجنه او خفه ګرځي او زړۀ له ئې قسم قسم ګیلې او دغم سوچونه راځي تر ودوزن له مخه چې له دې سره کم چلن د پلار په کور کښې شوے وي. د دې سترګو ته هغه ښۀ او بد ګرد ولاړ وي او دا بیا په شعري انداز یعني "انګۍ" کښې دا ټولې قیصې محفوظه کول شروع کړي او په کومه ورځ چې وادۀ وي په هغه ورځ له خپلو همزولو سره پر تخت ناسته په ژړا او دردونکي ږغ دالله وئ په نارو کښې هغه انګۍ وائي او په انګۍ کښې هر هغه څۀ برملا بیان کړي چې په دې به لګېدلي وي. دا چې هر څۀ وائي په دغه ورځ ورته اجازت وي. ولې چې دا د پلار پر کور د یو څو ساعتو مېلمنه وي. پښتانۀ لکه په دا ټپه کښې چې وئیل شوي دي:

هر کله راشه د یار غمه
زړۀ مې پښتون دے د مېلمه قدر کوینه

یوه ناوې چې ډېره غصه وي او غمجنه هم وي. په زوره زوره چیغو کښې خپلې انګۍ وائي، ورور خشم ورته کوي چې لړ په قراره ژاړه ستا ږغ دباندې سړیو له رارسېږي. دا په هغه ساعت د دۀ د خبرې ځواب په انګۍ کښې څۀ په دا ډول ورکوي.

"د سپینې خونې په وره مترمه
وه لالا چپ که نۀ دې منمه
تر هغو به لوئې بوغۍ وهمه
تر څو چې ستاله کلا تلمه
بیا به مخ پټ کړم اوبه وزمه
ځاے د سیالۍ دے زۀ بې کومه."(۳)

**د انګۍ فني جوړښت:**

انګۍ د نظم په صورت جوړې شوې وي و ډېرو پخوانۍ اوماتو انګۍ ته مونږ د ازاد نظمونو نوم ورکولے شو.

"انګۍ خپل معلوم وزن لري که ئې دیوې مصرعې وروسته ټکي متحرک وي نو هغه انګۍ لس سېلابه ایزه وي او که ئې د پائې توري ساکن وي نو بیا هغه انګۍ دنهو (۹) سېلابو وي."(٤)

له هرې انجلۍ سره ظلم نه وي شوے اونۀ هره انګۍ د ظلم په ضد جوړه شوې وي. خو چونکې دایو رواج دے چې ادا کول ئې پر دوي ترلے دے. نو هم د رواج پالنې په خاطر انګۍ وائي. د انګیو په ښو هم ستائنې شوي دي. او په بدو هم وئیل شوي دي.ډېرې انګۍ په مړو هم جوړې شوي دي. که د چا یو عزیز ؤ قریب مړ وي هغه په دا ورځ وریادېږي نو بیا به په انګۍ کښې د هغه ذکر کوي.

"له پاسه راله ښنکي رودونه
پر سر ئې راوړه سپین کاغذونه

لالــــــک ورکــــــړي دي ســــــلامونه
خــورې د نــه کښــېني زمــا پــه هيلــه
زه تــوري خــاوري کــوړي بلهونــه"(۵)

## انګۍ په کومو سيمو کښې وئيل کېږي؟

انګۍ د کاکړستان په ځينو سيمو کښې لکه بوري (لورلا ئي) قلعه سيف الله، زيارت، هرنائي او شاوخوا سيمو کښې رواج لري. زما يقين دے چې يو وخت به په ټوله پښتني سيمو کښې رواج وي. خو زمونږ ډېر رواجونه د ګلوبائزېشن اثراتو په وجه له منځه تللي دي.

انګۍ يواځې ناوې نه وائي، انګۍ وادهٔ ته راغلي هغه ارمانجنې پېغلې يا وادهٔ ښځې وائي چې څهٔ نه څهٔ ارمان پر زړهٔ لري او څوک ئې بيا شوقيه هم وائي، د خپل زړهٔ خبره په کښې وکړي. لکه په دا انګۍ کښې چې د ناوې يوه خوندکۍ څهٔ داسې وائي:

دا د درګـــــۍ پــــر لمـــــن برېښــــــنا
وه ترلـــــــې خلــــــه ده وار خطــــــا
زړګـــــے درتـــول کـــــه مـــړ دے کـــوه
تـــــه ملامتـــــــه ئــــــې پـــــه ژړا
زمـــا شـــي دا ســـتا وه حـــال تـــه هـــوا
تـــه د وړور خـــور ئـــې لـــري بابـــا
نـــن ښـــهٔ د قـــدر و دغلـــي ســـتا
ترلـــې تـــه پِکـــر وکـــه پـــر مـــا
زمـــا قريـــب څـــوک دي د شـــاله خـــوا
پـــه مـــا پکـــــړه ادې پخـــــه
نـــهٔ مـــې شـــته وړور څـــې يـــم پـــه درنـــه
تـــر کـــور بـــه وزم لکـــه مـــړده
کـــه وائـــي بـــې واره مـــرګے د چـــا

نـــــن بـــــه راتلـــــه ملکـــــه زمـــــا
ځـــــې ورکـــــولم ادې لـــــه زړهٔ"(٦)

انګـــي تـــر اوســـه مـــونږ د يـــوه نارينـــه لـــه خـــولې نـــهٔ دي اورېـــدلې البتـــه داســـې مثالونـــه لـــرو چـــې دوي هـــم پـــه انګـــي جوړولـــو کښـــې لـــږ ډېـــره برخـــه لـــري او دوي چـــې کـــومې انګـــي جـــوړې کـــړې هغـــه بـــه نـــاوې وائـــي او دا نارينـــه يـــا خـــو د نـــاوې ورور وي يـــا تـــر بـــور يـــا د خـــور زوے، البتـــه نارينه عالم دا انګي په بحر کښې شاعري کړې ده.

**د نارينه له خوا جوړه انګي:**

دمرتـــــې لاړ غـــــره پـــــر لمـــــن اور
پـــــر غورېـــــدلې د واورې وزر
بيـــــا د ســـــياګي دا زمـــــونږ سـندر
د کوهـــــار عـــــز هـــــم دے عجبـــــه ور
شـــــېر ئـــــې دے دغـــــه د ژوب ګـــــودر
اوبـــــهٔ راځـــــي د تـــــوخېزی پـــــرور
هـــم لانـــدې خـــوا ئـــې ده ټيســـک غـــر
خېـــزي خېـــزي دے د پټهـــان کـــوټ غـــر
د اوبـــو شـــړه ئـــې دے د زرګـــټ پـــر ســـر
کـــه ده ټينـــک دې د کـــړپ بنـــدر
زرغـــوني ونـــې دي د ګـــډې بـــر
نـــاوه ده تلکـــي د بـــوري تـــر ســـر
تـــر مـــنځ ئـــې ټـــپ تللـــے د ســـپېلې غـــر
لـــوړه لـــے هـــم دے مـــونږ تـــه راتـــر
دوه ئـــې رودونـــه د اوبـــهٔ خـــور
کشـــنے ئـــې ډېـــر ښـــهٔ دے لـــوے ئـــې کتيـــر

دے زمـــــونږ ښـــــاد کلـــــے د پتـــــه ګـــــر
د خـــــاپوړو ځـــــاے دے زمـــــا د زړهٔ ســـــر"(۷)

**انګۍ کله پیل شوه؟**

**لومړی انګۍ چاوئیلې ده؟**

مـــونږ د دې شـــواهد نـــهٔ لـــرو، البتـــه داســـې انګـــۍ شـــته چـــې هغـــه مـــاتې مـــاتې، او د کـــم عقلـــۍ د زمـــانې دي. د هغـــه ځـــاے یعني د بوري د خلکو د وینا مطابق دا ده قانوس د وخت دي.

"د ســـــپیني خـــــوني پـــــر وره بـــــرړي
و کـــــوزه لهـــــه تـــــه مـــــه کـــــې ورکښـــــته
کنـــــې درزړي مـــــه کـــــې کمبلـــــي"(۸)

**په انګۍ باندې تراوسه د شوي کار جاج:**

پروفېســـر ســـیال کاکړ هغـــه اولـــنے ســـړے دے چـــې پـــر انګیـــو کـــار کـــړے او یـــو وړوکے کتـــاب ئـــې لـــیکلے دے. د دهٔ کتـــاب پـــه انګیـــو کښـــې د اومـــه ذکـــر شـــته، چـــې حبیـــب الله رفیـــع صـــاحب ئـــې لـــه هومـــا سوما سره تشبیه کوي.

"پـــه دې کتـــاب کښـــې مـــا داســـې انګـــۍ وه نـــهٔ موندلـــه چـــې د زرهـــاو کلونـــو قـــدامت نخښـــې لـــري او یـــا داســـې تـــاریخي پېښـــې پـــه خپلـــه لمـــن کښـــې اولـــري چـــې زرګونـــو کلونـــو پخـــوا را مـــنځ تـــه شـــوې وې. البتـــه د ســـل دوه ســـوه کـــالو تـــاریخي پېښـــې پـــه کښـــې یـــادې شوې وي. هغه انګۍ چې د امه ذکر ته اشاره ده:

دا د ادیـــــرې پـــــه ســـــر کښـــــې امـــــه دے
پـــــه دا امـــــه کښـــــې ســـــیمرغ مرغـــــهٔ دے
لـــــه دا مرغـــــهٔ څـــــهٔ پوښـــــتنه وکـــــې
د فلانـــــي څـــــومره ارمـــــان پـــــر زړهٔ دے."(۹)

اومـه يـو داسـې بـل بـوټی هـم شـته چې نـن هـم زمـونږ د جنوبي پښتونخوا پـه غـرو کښې شـين کېږي. چې د سپرلي پـه موسـم کښې چې کلـه مالـدار عـالم راشـي، د دوي ښځې غـرو تـه خېژي او د اومـه بـوټي چې پـه انګرېزي کښې ورتـه افيـډرا وائـي، راوړي. غرَکي او کوډے (مشکيزه ) په پخه وي.

"خـو دهومـا سـوما بـوټی پـه بـاب وئيـل شـوي دي چې شـودهٔ يـا شـيره درلـوده ښـاخونه ئـې کلـک وو. پـر شـاخو بانـدې ئـې برګونـه وو، رنـګ ئـې سـرمائي يـا طلائـي وو، لـه دغـه بـوټي څخـه تـروې او ګاټـه شـودهٔ پـه ښـتېځلو ايسـتل کېدلې. او لـه دغـه سـره څـهٔ نـور اجـزا ګـډول او د عبادت د وخت دپاره به ئې مشروب ځنې جوړول.

محققـين وائـي چې سـوما بـوټی نـهٔ پخـوا چاليـدلے نـهٔ اوس وجـود لـري. دا صـرف يـوه افسـانه بـولي. د سـوما هومـا پـه حقلـه د افسـانو شـمېر ډېـر زيـات دے. بلـه دا چې د پښـتانهٔ پـه سـيمه يـو شـمېر جنګونـه شـوي دي. ډېـر څـهٔ لـه منځـه تللـي دي. نـو ځکـه مـونږ دانـهٔ شـو منلے چې انګی دې پنځه زره کلن تاريخ ولري."(۱۰)

نـو ځکـه مـونږ دا ګمـان کـوو چې پـه دې انګـی کښـې د امـه ذکـر راتلـل اومـان بـوټي (افيـډرا) څخـه دے. دا نـن هـم پـه غريـزه او د اديـرو پـه پلـو شـين کېږي. بـل دا چې پخـوانی انګـی پـه ترتيـب هم نهٔ دي. هغه ماتې دي لکه دا انګی:

دا د بـارې پـه سـر کښـې نخـيش دے
ماتـه معلـوم دے تاسـې راواخلـئ
غوښـه بـه پـه وه کـارې
يـو تـود هـډوکے بـه مالـه راړي"(۱۱)

**د انګۍ وئيلو علتونه:**

د انجلۍ ودَزِن، د پلار له کوره وتل، پردو خلکو او پردي کورته د همېشه دپاره تلل او د خپل په ځای په بې ګانه کښې ودېدل بولم. لکه په دا انګۍ کښې چې وائي:

دا د درکې پر لمن الوان
زما و بخت ته مخلوق حېران
شنه درګۍ ښار وه د ملتان
په دې کښې ګرزي څنګه ځوانان

تر اوبو پوست د دوي زبان
زما قسمت نه وے رزق مه تمام
دا زما د بخت ول راندۀ رويان
ادي کې وکښل ئې بل ځايان
عام خاص خبر دي يائې دي ژوبيان
خلک دا يائي دوي ملايان
لوے بې رېړي ازاد کاليان
په چادري کښې به وي زما ګزران
زما د ژوند واوړي ژوند مه تمام(۱۲)

له مور، پلار، خوېندو، او ورونړو جدائي، پرديسي څۀ اسانه خبره نۀ ده. پښتنو اکثره ودونه په خپلو خپلوانو کښې کول انجونې بې له قامه دباندې نۀ ايستې. د هغه اوله وجه دا چې دوي يو بل ښۀ سره پېژندل، رواج ئې يو ؤ. دويم دوي خپلو کورو کښې بېګانه نۀ پرېږدي. دريم په لور خور پسې تلل راتلل ليرې ځاے ته ګران ؤ او دا پردېسه کېدله.

هغــه هلــک، چــې لــور يــا خــور بــه ئــې ورکولــه د دوي مــخ تــه بــه لــوے شــوي وو. ښــۀ او بــد بــه ئــې ورتــه معلــوم و. ولــور بــه هــم خپلــو کښــې کــم ؤ. نــو ځکــه بــه د دې ســيمې نجونــو ذهنونــه داســې جــوړ وو، چــې يــا بــه مــې د اکــا زوے تــه ورکــوي يــا د مامــا او بــل قريــب. چــې داســې بــه ؤ نــۀ شــو نــو غبرګــون بــه ئــې پــه انګيــو کښــې کيدۀ.

"دا د خونســــوب پـــــر چمــــن نارونــــه
ترلـــې بـــې شـــپياڼې بـــد دي تربرونــــه
پـــه پريـــدي خلـــک کـــې غـــواړي ودونــه
راتـــه پيغـــور کـــې د خـــدا ے مرګونــــه
کـــــه د ترلــــو وا ے دومــــره عقلونــــه
ترلـــو بـــه کـــړي وو خپـــل تربرونـــه"(۱۳)

## بل علت خوانښې ده:

هغــه خوانښــې چــې دا پخپلــه هــم ښــځينه ده. خــو کلــه کلــه داســې وي چــې دا هــم ديــو جــلاد پــه ډول ځېــره خپلــه کــړي. دا هــم يــو رواج دے چــې پالنــه ئــې کــوي. چــې خوانښــې بــه خامخــا پــه نـږور باچــاهي کــوي. دا بــه د کــور اختيار منــه وي. نـږور خــو پــردۍ لــور ده هــېڅ تــرس نــۀ لــري. کــه يــوه نــږور بــده وي نــو بلــه راوړي. خوانښــر لــه زويــه ســره مينــه لــري چــې دا مينــه وويشل شي نو دا ئې نۀ شي زغملے:

"د ســــپينې خــــونې پــــر وره مرغــــۀ د ے
هـــوس مـــه وچ کـــې زړګــے مـــه ښـــۀ د ے
د خوانښــــې زور مــــه ليــــدلے نــــۀ د ے
د دې پيغـــور تـــر غشـــي تېـــرۀ د ے"(۱۴)

**درېم علت يو لور يا خور ته ښهٔ کور نهٔ ورکول:**

د دې پـر سـر پـلار يـا ورور خـو پيسـې (ولـور) واخلـي هغـه ولـور د دپـاره وي چـې بيـا بـه و نـاوې تـه ښـهٔ پسـول (زيـور) کـالي او د ضـرورت نـور سـامان ورکـوي. خـو ځينـې داسـې هـم وي چـې هغـه ټـولې پيسـې اخـري ودې تـه څـهٔ خـاص شـے ور نـهٔ کـړي. نـو هـم دا د خسـرګنۍ لـه پښغـور بيـا خلاصـه نـهٔ وي نـو خپـل پـه کـردار کښـې سـترګې کښـته وي. کـه لـږ يـا څـهٔ ورنـهٔ کـړي نـو دا پـه انګـۍ کښـې ستائينه کوي.

"زمـا بابکـه زړهٔ ده ايـرې شـه
زه د پـه ډېـرو روپيـو ورکـړم
کفـن د زمـا پـه روپيـو پـرې شـه

**يا بيا دا:**

بابکـه مـه د خپـزه ارمـان
خرڅـه د کـړم لکـه حېـوان
پښغـور بـه راکـې پـردے جهـان
تـا پـر نوټـو راوړلـے ايمـان"(۱۵)

**څلورم علت:**

څلـورم علـت کـه د چـا څـوک عزيـز قريـب يـا سـکنے، لکـه ورور، مـور، خـور او پـلار مـړ وي نـو دوادهٔ پـه ورځ سـترګو تـه ولاړ وي ارمان ئې زړهٔ وي:

"دا د هـديرې پـر لمـن ډيـوه ده
لحـده غـاړه د ښائسـته ده
پـه ګـچ وهلـے پـه سـند ورسـره ده
پـه ميـان کښـې سـپينه مـورکۍ پرتـه ده
لحـده يـوار خـې را ښـکاره کـه

لـــــه مـــاځې ويـــره د مــــخ ګونـــه ده"(۱۲)

## د خوشحالۍ انګۍ:

مــونږ تــه ډېـرې انګــۍ د خوشــحالۍ هــم پــه نظــر راځــي هغــه وجــه دا چــې يــاخو بــه پــه خپلــه خوښــه وادۀ وي. يــا مــور پــلار ښــۀ ځــاے ورکــړے، يــا ښــۀ ډېــر اسـباب ورتــه ورکــړي نــو دا خفــه نــۀ وي. ځکه بيا په انګۍ کښې څۀ داسې ذکر وائي:

"د ســــپينې خـــونې پــــر وره ډېـــــوه
وه ادې شـــــکر د خـــــدا ے مننـــــــه
د ګرانـــــــو لوڼـــــــو دلاشـــــــته
د دۀ پــــه لاس ئـــــې کـــــړو ښائســـــته
اٰ د بـــې بـــې وروره خوېنـــدې ګنـــده"(۱۷)

مــونږ تــه سياســي انګــۍ هــم پــه نظــر راځــي. غــرض دا چــې ښنګه ماحول، واقعات وي انګۍ د هغه په مناسبت جوړوي.

## انګۍ او چيغانو کښې فرق؟

پــه انګــۍ او چيغــانو کښــې نــور هــيڅ فــرق نــۀ ليــدل کېــږي. فــرق صــرف د نامــه دے چــې پــه هــره ســيمه کښــې خپــل نــوم دے. انګــۍ پــه بــوري (لــورالائي) کښــې ورتــه وائــي، خــو ببرتــه هــم پــه دغــه ســيمه کښــې و نيمــو تــه متلونــه وئيــل کېــږي. د متلــو مصــرعې لــه ځلورځخــه تــر ۲۰بنــده پــورې وي متلونــه د مېرنيــو پــه حقلــه جــوړوي - پــه قلعــه سـيف الله خــوا و شــا کښــې ورتــه چيغــان، د زيــارت پــه ســيمه کښــې ټپــې، او هرنــائي، چــوتېر ســيمه کښــې ورتــه "هــوئ" ځــاے پــه ځــاے ســريتې هــم وئيــل کېــږي. نــور ئــې پــه جوړښــت کښــې هــيڅ فــرق نــۀ مونــدل کېږي.

## حوالې


۱. ننګ، محمد اصف، افغانه ښځه، مدرنیت، اسلام او عنفه، بنګاه انتشارات مېوند کتنجانه سبا، کال ۲۰۰۳ مخ ۹.
۲. ځلاند، ابوالخېر، انګې، دنیمې نړۍ فریاد، پښتو ادبي کاروان سره غوړګۍ کوټه، کال اپریل ۱۹۹۴، مخ ۱۹۵
۳. اولسي، بوري (لورالائي)
۴. ځلاند، ابوالخیر، مخ ۱۹۸
۵. اولسي، هرنائي
۶. اولسي، بوري (لورالائي)
۷. همدغه
۸. همدغه
۹. کاکړ، سیال، انګې، پښتو ادبي بورډ، ستمبر ۱۹۸۷ مخ ۱۸
۱۰. جهاني، عبدالباري، ادبي پلټنې، تاریخ خپروندویه ټولنه کندهار، کال اپریل ۲۰۱۵ مخ ۱۳۱
۱۱. اولسي بوري (لورالائي)
۱۲. اولسي همدغه
۱۳. کاکړ، سیال، مخ ۵۷۰
۱۴. اولسي، بوري (لورالائي)
۱۵. اولسي غوڅکې (زيارت)
۱۶. اولسي همدغه
۱۷. اولسي بوري (لورالائي)
۱۸. منظوم